## د خپل ماشوم په ښوونه او روزنه کې مرسته کول

- له خپل ماشوم سره د هغه څه په اړه خبرې وکړئ چې دوی یې په ښوونځي کې زده کوي
- د خپل ماشوم په اړه له ښوونکو سره د خبرو کولو لپاره د والدینو د ماښام ناستو ته راشئ
- ستاسو ماشوم ښايي په کور کې د کور کار کولو اړوند کورنۍ دنده ولري. د هغې په اړه ترې پوښتنه وکړئ
- د ښوونځي هغو غونډو ته راشئ چې درته تشریح کوي چې ستاسو ماشوم څه شی زده کوي
- ښوونځي به ځینې وختونه د هغو شیانو په اړه معلومات شریکوي چې تاسو یې په کور کې له خپل ماشوم سره د مرستې لپاره کارولی شئ. یاد معلومات له خپل ماشوم سره وګورئ
- زده کړه یواځې په ښوونځي کې نه کیږي. په بس کې کوم ځای ته تلل یا سفر کول ښايي د نویو شیانو د زده کولو فرصت وي. له خپل ماشوم سره د هغه څه په اړه خبرې وکړئ چې دوی زده کړي دي

## د والدینو د شورا غونډې ته ورتلل

دا غونډې د والدینو له لوري پرمخ وړل کیږي. په دې غونډو کې ښوونځي او والدین په ګډه کار کوي ترڅو په ښوونځي کې له ټولو ماشومانو سره مرسته وکړي. دوی په ګډه د شیانو په اړه خبرې اترې کوي، د ښوونځي د اړتیاوو لپاره پیسې راټولوي او ځینې فعالیتونه لکه ډیسکو ګانې او د ښوونځي مېلې پرمخ وړي. یادې غونډې ښايي په حضوري یا آنلاین بڼه وي.

که تاسو د والدینو د شورا په غونډه کې د ګډون لېوالتیا لرئ، په اړه یې له خپل ښوونځي سره اړیکه ونیسئ. دوی کولی شي تشریح کړي چې څنګه ورسره یوځای شئ.








## تاسو کولی شئ په دې لارو کې راسره مرسته وکړئ:

### په ښوونځي کې مرسته کول

- د ښوونځي په کتابتون کې مرسته کول
- له ماشومانو سره خپله ژبه او کلتور شریکول
- په ټولګي کې له ماشومانو سره د سواد زده کړې او ریاضي په برخه کې مرسته کول
- د ښوونځي په فعالیتونو کې د مرستې وړاندیز کول د بېلګې په توګه د چای او کافي د خدماتو ترسره کول، د جامو یا د ښوونځي ننداریې لپاره د منظرو جوړول

که تاسو په ښوونځي کې د مرستې لېوالتیا لرئ د تلیفون یا بریښنالیک له لارې له خپل ښوونځي سره اړیکه ونیسئ.









# د والدینو
# ښکېلتیا او EAL

هغه لارې چې له مخې یې والدین
کولی شي د ښوونځي او ستاسو
د ماشوم په ښوونه او روزنه کې
ښکېل شي








Pashto

## د والدینو ښکېلتیا څه شی ده؟

په سکاټلېنډ کې والدین هڅول کېږي چې د ښوونځي په چارو او د ماشومانو په ښوونه او روزنه کې ښکېل وي. والدین د خپل ماشوم په زده کړه کې ښکېل کېږي او په ښوونځي کې مرسته کول یې کولی شي د ماشومانو زده کړه لا ښه کړي.





## که تاسو لېوالتیا لرئ چې له خپل ماشوم سره د مرستې په اړه نور داسې څه زده کړئ چې تاسو یې په کور کې ترسره کوئ د مشورې لپاره له خپل ښوونځي سره اړیکه ونیسئ.

تاسو کولی شئ د ښوونځیو لپاره د اړیکو معلومات دلته پیداکړئ:

https://online.aberdeenshire.gov.uk/Apps/Schools-Contacts/allschools.asp






